# د خوشال کرکه له خټکو

لیکنه : ضیاءالحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې د دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالۍ قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامې سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادونه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو څوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډي د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو ، څه د خوشال تر شا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان تر شا ولاړ وو ، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکـــو حقیقت را ته ښـــکاره شـــو

زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

د خټکو نامې هو سره زړه خوبن دی

چې تـــوبه د هـــمګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو ، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه تري پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېړانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمی نه و کړی ، نو ځکه تري ګیله من ښکاري.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نعمت په قـــدر هيڅ خـــبردار نه دي

نوم ختهک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

بل ځای بيا نوموړی د ختهکو په ليکه کې د پښتنو دوه نوردرانه او ستر قومونه (بنګښ او ورکزي) هم ورګډوي او د دې درې وارو په کورونو يو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که ختهک دی که بنګښ که ورکزی دی

وار په واريې په کـــور وشه ماتـــمونه

(دېوان،۵۵۵مخ)

بل ځای بيا يوسفزي تر سپيوو بدتر ګڼي، هغه داسې چې يو ځل ختهک تر سپو بېکاره بښيي او د ختهکو سپي تر يوسفزيو بهتر ګڼي، او وايي:

د ختهکـــو سپي بهتـــــر تر يوسفـــزيو

که ختهک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دېوان، ۵۵۵مخ)

او په اخره کې وايي :

که ختهکو راته شا کـــړه مخ يې تورشه

زه يوازې په تکيه د خدای شيرک يم

(دېوان، ۵۷۹مخ)

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مینه او ښېرازۍ کې یو له بله کم نه دي او هر یو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان ختک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ،چې د نومورړي په کمو بدو بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه ته په یوه سترګه ګورم، هیله مند یم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور : ضیاءالحق سیند

پته: بغلان ولایت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سیمه

۱۳/ ۱۱/ ۱۳۹۴

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**